AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد عارف رسولي

۲۰۱۹/۱۰/۱۶

# پرمختللي ملتونه

## نمونه شخصیتونو او غوره ارزښتونو ته اړتیا لري

پخوا په کابل ښار کې ځینې نوموتي علمي شخصیتونه، لیکوالان، استادان او ښوونکي وو، د ځوان کهول لپاره نمونه وو، یو عجیب کلتور یې رامنځته کړی وو، چا به په ریاضي، چا په فزیک یا بل مضمون او چا په ښه تدریس او نورو په غوره لیکنو کې شهرت ګټلی و. موږ ځوانانو ته د دوی په پله پل اېښودل ستر ویاړ ښکارېده.

په یاد مې دي محترم ډاکټر سورګل وردګ چې په سول انجنیرۍ کې یې دوکتورا درلوده، تازه واده یا عروسي یې کړې وه، د کابل پوهنتون د انجنیرۍ پوهنځۍ یو وړتیا لرونکی او منل شوی استاد و، خو موږ ورباندې خبرېدو چې د مازدیګر تر رسمي وخت وروسته او د جمعې په ورځ او رخصتیو کې یې له خپلې کورنۍ سره په خپل درۍ بسوه ایز کور کې په خوشال مینه کې د لګه یو مردکار کار کاوه، په لږو یې قناعت کاوه او با عزته ژوند یې درلود. موږ د انجنیرۍ محصلانو ته هغه یوه ښه الګو او مثال وو.

عوام او په تېره ځوان نسل که ښتیني، د ښو اخلاقو لرونکي او پوه مشران ګوري، ورباندې مثبته اغیزه کوي، خو که یې درغلګر، عیاش او ځان غوښتونکي، بدماشان، د ځمکو غاصبان او زورواکي ګوري ورباندې اغیزه کوي، او په ټولنه کې د شان شوکت لپاره همغه لاره غوره کوي. له بلې خوا دا کسان او کړه وړه یې په ټولنه کې یو ناوړه کلتور رامنځته کوي، خلک په کمو امکاناتو بسنه نه کوي او اړ کېږي چې د داخلي او خارجي کړیو مزوري وکړي او د خپل ملک په وړاندې خیانت وکړي.

پخواشینۍ سره تر ناورینونو او جنګونو وروسته، چې نوموتي علمي او ملي شخصیتونه مو شهیدا، مهاجر او یا د کهولت سن ته ورسېدل، اقتصاد مو مافیایي شو، د حرامو اود  بیت المال خوړل عام شول، د علمیت، خدمت او په لږو خو حلالو قناعت او باوقاره ژوندکولو کلتور، هغه علمي چاپېریال، تقوا، علمي فضا، افغاني غرور او نور ښه ارزښتونه مو له لاسه ورکړل. زموږ کلتور داسې حالت ته راورسېده چې، زورورهل زیاتو خلکو ته یو ډول عیاري، قانون منل ورته کمزوري او د ځان کمښت ښکاري. نو ځکه اوس ګورو چې چا کوم بادیګاردان، موټر، نوم او نښان پیداکړل بیا نو ځان له قانونه پورته بولي او نور خلک ورته انسانان نه ښکاري. دوی باید خبر شي چې هر څومره ټولنه متمدنه کېږي زورورهونکي خلکو ته سپک او جاهلان ښکاري او په وړاندې یې دربږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زه ګورم چې د نړۍ زيات علمي شخصيتونه، ستر ستر ليکوالان، مشهور سياستوال او ستر ستر نړيوال کارپوهان په کنفرانسونو، ملمستياوو، د کار په عادي ورځو کې په هوټلو، په کفترياګانو او شخص کورونو کې هره ورځ په لين کې له خپلو مامورينو، ډريورانو او نورو سره د ډوډۍ اخيستلو په لين کې ولاړ وي، نه يوازې نه ورباندې شرميږي بلکه ستر وياړ يې ځانته بولي او غواړي نورو ته وښيي چې موږ هرڅومره چې په معنوي لحاظ ستريږو نو په اخلاقو او تواضع کې بايد ځانته عزت وګورو.

همدارنګه، موږ په خپل اسلامي تاريخ کې زيات ورته مثالونه لرو، حضرت عمر فاروق له خپل ساتونکي او خدمتګار سره په سفر کې په نوبت په اس سپريده، د الله رسول له سپين سرې ښځې سره په لاره بار په اوږه اخيسته، په هغه يوې مشرکې همسايه ښځې هره ورځ د خځلو لوښی له بامه ورچپه کاوه خو هغه له زغمه کار اخيسته او چې څو ورځې يې دا کار ونه کړ، خبر شو چې ناروغه ده نو پوښتنې ته ورغی او هغې هم ايمان راوړ، ځکه وايي انسان د احسان تابع دی.

خدای وکړي چې زموږ عالم او پوه خلک په غوره ملي او ديني ارزښتونو ټينګ ودريږي، له ځانه الګو او نمونې جوړې کړي، موږ داسې فرهنګ ته وده ورکړو چې قانون منل د خپل ځان کمزوري نه بلکه د ځان لپاره يې د ښه سرېتوب او وياړ نښه وګڼو. دا ځکه چې سرلوړي او پرمختللي ملتونه نمونه شخصيتونو او غوره ارزښتونو ته اړتيا لري.

د يو سرلوړي، باعزته او پرمختللي افغانستان په هيله!

محمد عارف رسولي

کابل، افغانستان



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ